## رأی
د شخص د ارادې څرګندول دي چې د يو فردي حق په توګه په ليکلي يا اشارې او يا لفظاً او هم په سري او يا علني توګه په مختلفو سياسي، اجتماعي او نورو چارو کې څرګندېږي. دری: [رأی]

## راډيو اکتيف مواد
هسته يي او نور راډيو اکتيف مواد چې د هستې لرونکي وي او پخپله تجزيه کيږي دغه تشعشعات د خپلو تشعشعي او انشقاقي خصوصياتو له مخې په مړينه، سخت جسمي ټپ، رواني زيان يا ملکيتونو او چاپېريال ته په زيات زيان اړولو تمام شي. دری:[مواد رادیو اکتیف]

## راشي
هغه شخص دی چې د يو عمل د کولو يا امتناع په موخه يوه مالي وجه د عمومي خدمتونو د موظف په واك کې ورکوي او يا هم د هغې وعده اخلي. دری: [راشی]

## راکب
هغه شخص چې په يوه ډول لېږدونکې وسيله کې سپور وي. دری: [راکب]

## راګرځېدلي مالونه
هغه افغاني او غير افغاني مالونه چې وروسته له ترخيص او صادرېدو بېرته د هېواد ګمرکي قلمرو ته را وارد شوي وي. دری:[ اموال بازگشتی]

## راهن
هغه شخص دی چې عين يې په ګروی ورکړی وي. دری:[راهن]

## رايجي پيسې
له هغو بانکنوټونو او سکو څخه عبارت دي چې د ورکړې وسيله ګڼل شوي او د قانون له حکمونو سره سم د اړوندو مراجعو له خوا خپرېږي او د چلند وړ وي. دری:[پول رایج]

## رب المال
د مضاربت په عقد کې د مال او سرمايي صاحب. دری: [رب المال]

## ربا
د جنس په جنس له بيع څخه عبارت دی په دې شرط چې زياتوالی په کې وي. دری:[ربا]

## ربا خوار
د پيسو وام ورکوونکی دی چې له مديون څخه فاحش سود اخلي. دری: [ربا خوار (سود خوار)]

## ربع
د ميت په متروکه کې يوه پر څلورمه برخه. دری: [ربع]

## ربلی
هغه حالت چې يو شی د وخت له تېرېدو او کار اخيستلو له مخې تلف او يا له منځه تللی او هغه شی د مالوالي خاصيت له لاسه ورکړي. دری: [ربلی]

## رجعت
له نوي عقد پرته د زوجيت اړيکې ته بې له باين طلاق څخه د مطلقه زوجې بېرته راګرځېدل. دری: [رجعت]

## رجعی طلاق
رجعي طلاق هغه طلاق دی چې زوج کولای شي د عدت په موده کې پرته له دوه يم ځل نکاح، زوجې ته رجوع وکړي. دری:[طلاق رجعی]

## رجم
هغه شرعي حد دی چې د هغه له امله محصن سړی او محصنه ښځه چې د زنا د جرم مرتکب شوی وي، سنګسار کيږي. دری:[رجم]

## رخصتي
هغه وخت او ميعاد دی چې د هغې له مخې د قانون له حکمونو سره سم استفاده وشي. دری: [رخصتی]

## رد (مدني)

د ذوي الفروض تر برخو وروسته د هغوی له ډلې څخه د هر یوه د برخې په تناسب د پاتې ترکې لـه اعـاده کولـو څخه عبارت دی. دری:[رد (مدنی)]

## ردة

هغه کلمات دي چې د هغو په استعمال سره یو شخص مرتد شمېرل کېږي. دری:[ردة]

## رسمي اخطار

له هغې ویروني څخه عبارت دی چې په رسمي توګه د محکمې له خوا د مخاصمې د یو یا دواړو خواوو لپاره صادر شي. دری: [اخطار رسمی]

## رسمي اقدام

هغه پرېکړه یا اقدام دی چې د دولتي چارواکو له خوا د مسایلو، ستونزو او یا حقوقي اجراآتو لپاره د قانون له حکمونو سره سم ترسره کېږي. دری: [اقدام رسمی]

## رسمي بازار

هغه بازار چې په هغه کې اعتبارات او بورسونه تر معاملې لاندې نیول کېږي، دې ډول بازار ته «منظم بازار» هم وايي. دری: [بازار رسمی]

## رسمي پاڼه

هغه معتبر او ارزښتناکه رسمي ډول ډول پاڼو ته چې د عقدونو، معاملاتو او د اشخاصو د شتمنیو د مالکیت د حقوقو د تثبیت د توثیق لپاره د بېلابېلو عدلي، قضايي او اداري ادارو له خوا د ثبت څخه وروسته صادرېږي.
دری: [ورقهٔ رسمی]

## رسمي رهن

د ګروی هغه عقد دی چې د هغه پر بنیاد د تقدم حق پر هغه عین باندې د رسمي سند په واسطه ګرونیونکی د نورو دائینو تر ګروي لاندې پیدا کوي.
دری: [رهن رسمی]

## رسمي سند

یوه پاڼه ده چې عمومي مؤظف یا د عمومي خدمتونو کارکوونکی د قانون د حکمونو په اساس د خپل اختصاصي واک په حدودو کې کوم شی چې د هغوی په حضور کښې صورت موندلی وي. یاېې د علاقې لرونکو اشخاصو څخه ترلاسه کوي په کې درج او ثبت وي. په بل عبارت د سیاسي حقوقي، اقتصادي، قضايي، ټولنیزو، تاریخي، فرهنګي، حسابي یا اداري ارزښت لرونکي رسمي مدارکو مجموعه او د اثبات وړوي.
دری:[سند رسمی]

## رسمي عقد

هغه عقد دی چې د معاملې د روغوالي لپاره پکښې پر اساسي شرطونو برسېره ځانګړی تشریفات وي.
دری:[عقد رسمی]

## رسمي لباس

هغه مخصوص لباس چې د قانون له حکمونو سره سم د مؤظفینو او عادي افرادو ترمنځ د تمیز په موخه تثبیت شوي وي. دری: [لباس رسمی]

## رسمي مکتوب

هغه اداري لیک چې په اړونده صادروونکي مرجع کې له ثبت وروسته اړوندې مرجع ته د قانوني اجراآتو لپاره استول کېږي. دری: [مکتوب رسمی]

## رسمي وثیقه

هغه رسمي قیمت لرونکی سند دی چې د محکمې له خوا د بېلابېلو حقوقي او قضايي چارو د توثیق لپاره برابر شوی او د اړوندې محکمې له خوا د لیکلو، ثبت، امضأ او مهر څخه وروسته د قانوني اعتبار وړ وي.
دری: [وثیقه رسمی]

## رسمي وصیت لیک

هغه وصیت لیک دی چې په اړونده اداره کې د قوانینو او مقرراتو سره سم سمبال شوی وي.
دری:[وصیت نامه رسمی]

**رسمی دنده**

عبارت دی د دولت د مامور له قانوني تکلیف څخه چې پایلې یې صلاحیت او مسوولیت دی.

دری: [وظیفه رسمی]

**رسوائي**

د خلکو په حضور کې پر محکوم علیه د جزاگانو اجراء کول چې هغه وپېژندل شي. دری: [رسواکننده گی]

**رسید**

هغه سند دی چې د هغه په اساس د مکتوب، رسمي پاڼې، چك او یا مالونو او شیانو د لاسته راوړلو وروسته د لاسته راوړونکي له خوا صادرېږي. دری: [رسید]

**رسیدلې عاقله**

هغه پیغله او یا ښځه چې په عقلی صحت برسېره د بلوغ او رشد عمرته هم رسېدلې وي. دری: [عاقله رسیده]

**رشوت**

د عامه خدمتونو هر مؤظف چې د یوې وظیفې د اجراء یا امتناع یا اخلال په مقصد چې پرې مکلف شوی پخپل نوم یا د بل شخص په نوم نقدې پیسې، مال یا یوه گټه وغواړي. دری: [رشوت]

**رشید شخص**

هغه شخص چې د شمسی کال په اساس د اتلس کلنۍ عمرئې بشپړ کړی وي او د عقلي صحت خاوند وي.

دری: [شخص رشید]

**رښتیني خپلوي (قرابت)**

د اشخاصو ترمنځ هغه اړیکې دي چې د زېږېدنې ثمره او زېږنده وي. دری:[قرابت حقیقی]

**رښتینې انا (د پلار مور)**

هغه انا ده چې میت ته یې انتساب د رښتیني نیکه په واسطه وشي. (رښتیني نیکه ته دې مراجعه وشي).

دری:[ جده صحیحه (مادر پدری)]

**رښتینې مړینه**

هغه مړینه ده چې په معاینه او یا اورېدو او یا هم د قضا په وړاندې د شاهدانو په شهادت ثابته شوې وي.

دری:[فوت حقیقی]

**رضاء**

د شخص د ارادې توافق دی چې د هغه شتون د عقدونو د انعقاد لپاره شرط دی. دری: [رضاء]

**رضاع**

د مسترضع له سینې څخه د ماشوم د شیدو څښل دي. (مسترضع ته دې مراجعه وشي). دری:[رضاع]

**رضاعي حرمت**

هغه ډول حرمت دی چې په لوموړنیو دوو کلونو کې د یوه ماشوم لخوا د یوې ښځې د شیدو د خوړلو په پایله کې (که یو څاڅکی هم وي) منځته راځي او پایله یې د تل لپاره د راعي مور له فروعو سره د زوجیت د اړیکې نه رامنځته کېدل دي. دری:[حرمت رضاعی]

**رضایي وېش**

د هغه مشترك مال وېش دی چې د ټولو شریکانو په خوښه او رضایت صورت مومي. دری:[تقسیم رضایی]

**رضائي خپلوي (قرابت)**

هغه خپلوي چې د دوو تنو ترمینځ د شېدو خوړلو له امله رامنځته کېږي. دری: [قرابت رضایی]

## رضايي ترکه

هغه ترکه ده چې د متوفی په متروکه مال کې د برخو خاوندان په رضايي توګه خپلې برخې له متروکې څخه معلومې کړي. دری:[ترکه رضایی]

## رغبت

د يو حق د مطالبې او يا د يو عقد سرته رسول. دری: [رغبت]

## رقبي

هغه عقد دی چې په موجب يې د عين خاوند مال يا د هغې ګټې، د ټاکلې مودې لپاره د عقد د لوري په واک کې ورکوي. دری: [رقبی]

## رقبي سکني

هغه سکونت دی چې د عمر د ټولې مودې لپاره وي. دری: [سکنی رقبه]

## رکاز

هغه ګنج چې تر ځمکې لاندې د معدن او نورو مدفوناتو څخه لاس ته راځي چې مالک يې معلوم نه وي. دری:[رکاز]

## رکن شئ

د يو شئ په ماهيت او حقيقت کې شامل دی او پرته د هغه شئ موجود کېدای نشي. دری:[رکن شی]

## رواني مجازات

هغه مجازات چې زيان يې د مجرم اعتبار، شهرت او ټولنيز حيثيت ته رسيږي. دری: [مجازات روانی]

## رهن

هغه عقد دی چې د هغه له مخې د يوه مال قيدول د بل مال د ورکړې په مقابل کې د هغې د يوې برخې يا ټولو څخه ممکن وي. دری: [رهن]

## رياضي تساوي

د مؤدي د عوايدو او د مالياتي مبلغ ترمنځ تناسب ته ويل کيږي. دری: [تساوی ریاضی]

## ريښتيني مشدده حالت

هغه حالت چې د مجرم د خطرناك حالت او ارتكاب شوي جرمي عمل په نظر کې نيولو سره، جزا شدت مومي. دری:[ حالت مشدده حقیقی]